

# د فخر افغان باچاخان مزار



رحمت شاه سایل

د دې خاورې د څو زرو کلونو په ژوندون کښې
د دې خاورې د مينې د غمونو په ژوندون کښې
د دې خاورې د خلقو د فکرونو په ژوندون کښې
د دې خاورې د ټول اولس د زړونو په ژوندون کښې
د دې خاورې عظمت له د جنګونو په ژوندون کښې
د دې خاورې د غرونو او دشتونو په ژوندون کښې

دې خاورې زېږولي توريالي دي په زرګونو
يو يو زمونږ زينت دے د تاريخ د کتابونو

د يو يو کارنامې چې ګورې ځان له باب دے
د هر يو باب خور شوے د تاريخ په ټول کتاب دے
هر يو مې د پښتو نيکۀ هر يو د پښتو پلار دے
هر يو مې تصور د ژوندانۀ د انقلاب دے
هر يو زما د مينې او د وينې رشته دار دے
هر يو مې نازولے د اعزاز او د خطاب دے

روحونه ئې اوس هم دي زمونږ سپورې د سرونو
د ځلونه ئې وړو ډکې جولۍ د مرادونو

خو دا ځلے او دا مزار د داسې يو افغان دے
چې څومره افغانان دي، د هغوي فخر افغان دے
تصوير کۀ ئې هر څو د يو ملنګ غوندې انسان دے
د خپل وطن د ټول اولسونو باچاخان دے
د دې خاورې پېدا دے ولې خور په ټول جهان دے
چې هر چرته انسان دے نو په ټولو باندې ګران دے

دا ځکه چې يو دے،زمونږ د ټولو ترجمان ؤ
ژوندون ئې لکه ګل په خاموشۍ کښې هم ګويان ؤ

مئين په آزادۍ ؤ ليونے د آزدۍ ؤ
يو داسې راهنما ؤ چې دښمن د غلامۍ ؤ
په ژوند کښې وېرېدلے نۀ د توپ نه د ګولۍ ؤ
پېغام ئې مدام کار ؤ نۀ په ځول نۀ په ږلۍ ؤ
يو اور ئې لګولے په ځوانۍ او په خانۍ ؤ
منشور ئې د مخلوق، د هر خدمت او قربانۍ ؤ

ګزار به ئې کاؤ بې د لړګي بې د غرګي نه
آزاد ئې خپل وطن کۀ په تش لاس د پېرنګي نه

بدل ئې په وړومبي ځل د هر جنګ د خیال انداز کۀ
په هر یو سم او غر تېر شه هر کور ته ئې اواز کۀ
د خپل وطن بچې ئې پویې د ژوند په راز کۀ
د خپلې فلسفې په حقیقت ئې سرفراز کۀ
د پوهې د رڼا د پلوشو جهان ئې ساز کۀ
د مینې د الف او 'ب' د ساز نه ئې آغاز کۀ

مرکز ئې سردریاب لکه مکتب د لېونو کۀ
بېدار ئې ټول وطن د آزادۍ په ترانو کۀ

دا ځلې دا مزار نۀ صرف ځلې نۀ مزار دے
په دې منظر کښې پروت زمونږ د ټول تاریخ اظهار دے
زمونږه د ژوندون د قیصې داسې یو کردار دے
تحریک دے جدوجهد دے کردار دے او ګفتار دے
دا ځلې ځلې نۀ دے، دا د نوي ژوند یادګار دے
د زړونو د ترلو د هنر د ګوتو تار دے

هم دلته به مېلې وي د ژوندون د نغمه ګرو
تاوده به وي روحونه په خبرو په سندرو

هم دلته به راغونښتې پېښور، خپل ننګرهار وي
هم دلته به هغه قیصه خوانۍ او چوک یادګار وي
نرګس به ئې په ګل ګرېوان د ټول وطن قطار وي
واسکټ به پېښورې، ننګرهارے به ئې دستار وي
هر درمند او هر ډاګ او هر مېدان به لاله زار وي
د مینې هر نظر کښې به بیمار بیمار خمار وي

ګلونه به د تود سپرلي چاپېره راورېږي
راځي به ټول جهان، زمونږ جهان ته به پسخېږي

دا ځلې د یو داسې بې قراره لېونې دے
په هیڅ شان به زمونږ روحونه پرې نۀ ږدي قرار ته
دا ځلې د یو داسې راهنما او فلسفي دے
کۀ ناست یو مونږ به پاڅوي روان به مو کړي کار ته
دا ځلې د یو داسې ژوند د خیال د مدعي دے
دارو به په مرګ هم راوړي د ژوند د زړۀ بیمار ته

غنچک به خپل زېړګلے، خپل رېدے او خپل غانټول کړي
د مینې د وطن هر هر یو پرهر به پرې راټول کړي